# په اروپا کې د امنیت او همکارۍ سازمان

# افغانستان ته د ټاکنو د ملاتړ ټیم

## وړاندیزونه

## ۱۸ اکتوبر ۲۰۰۴

په اروپا کې د امنیت او همکارۍ سازمان

په اروپا کې د امنیت او همکارۍ سازمان ـ افغانستان ته د ټاکنو د ملاتړ ټیم راپور
له ۱۵ سپتامبر څخه تر ۱۲ اکتوبر ۲۰۰۴

**لړ لیک**


| موضوع | صفحی |
|---|---|
| ۱. پیژندنه | ۱ |
| ۲. لنډه کتنه | ۱ |
| ۳. وړاندیزونه پر: | ۲ |
| i. د ټاکنو اداره | ۲ |
| ii. ستره محکمه | ۳ |
| iii. د کمپاین مسایل | ۳ |
| ۴. پارلماني ټاکنی | ۴ |
| ۵. امنیت | ۶ |
| ۶. عاجل حقوقي او قانوني مسایل | ۶ |
| ۷. د پارلمانی ټاکنو څنډول | ۸ |
| ۸. د اوږدمهال حقوقي او قانوني مسئلو تحلیل | ۸ |
| ۹. کاري پلان الف ضمیمه | ۹ |

## پيژندنه

د افغانستان د ولسمشرۍ د ټاکنو لپاره د اروپا د امنيت او همکارۍ د سازمان (OSCE) لخوا د ټاکنو د يو ملاتړ ټيم استول د مرستې يوه مناسبه ذريعه وه. د پروسې د ښه کولو په موخه د ټاکنو د ملاتړ ټيم وکولای شول د ټاکنو په څارنې او اداره کولو کې له خپلو پراخو تجربو څخه په استفادې سره له ملګرو ملتونو، د ټاکنو له اداره کوونکو، کانديدانو او رسنيو سره په فعاله توګه کار وکړي. په وخت سره د يوې اعلاميې په خپرولو دوئ وکولای شول کانديدان وهڅوي چې د هغوئ د ټاکنو د لغوه کولو پريکړه پرځای نده. د ټاکنو د ملاتړ ټيم وکولای شول د ځينو ستونزو په بشپړ ډول مخنيوی وکړي او ځينې نورې يې را کمې کړي. که څه هم د رايو شميرنه لا اوس هم دوام لري خو د ټاکنو د ملاتړ ټيم باور لري چې دوئ د وړانديزونو د وړاندې کولو لپاره يو ښه اساس لري.

له بې قاعده ګيو سره، چې اوس يې هم څيړنه روانه ده، ټاکنې په موجودو امنيتي حالاتو او د زيربناو د جوړښت له ستونزو سره سر يوه د پام وړ لاسته راوړنه وه. د ټاکنو د ملاتړ ټيم (EST) د يو څو اقداماتو وړانديز کوي چې له مخې به يې د ټاکنو په عمومي اداره کې ښه والی راشي. سربيره پردې نوموړي ټيم د پارلماني ټاکنو لپاره يو نقشه وړاندې کوي چې د ۲۰۰۵ کال د اپريل يا مې په مياشت کې به ترسره شي. که چيرې نوي ولسمشر او د هغه حکومت دغه ضرب الاجل پوره کوي نو په يو لړ محاذونو فوري عمل ته اړتيا ده. پدې کې هيڅ شك نشته چې پارلماني، ولايتي او د ولسواليو ټاکنې به له اداري پلوه د ولسمشرۍ د ټاکنو په پرتله ډيرې ستونزمنې وي.

د ټاکنو د ملاتړ ټيم باور لري چې د اروپا د امنيت او همکارۍ سازمان (OSCE) د افغانستان په جمهوري پروسه کې مهمه مرسته کولای شي. نوموړی ټيم په ځانګړې توګه وړانديز کوي چې د اروپا د امنيت او همکارۍ سازمان /د جمهوري موسسو او بشري حقونو اداره (OSCE/ODIHR) يو پروګرام منځته راوړي چې له مخې يې د ټاکنو د اداره کوونکو ظرفيت لوړ شي. داسې بې شميره استعدادي او ژمن افغانان شته چې د خپلو مهارتونو د پورته وړلو لپاره ليواله دي. د اروپا د امنيت او همکارۍ سازمان (OSCE) له دوئ سره د روزنو له لارې مرسته کولای شي ترڅو دوئ له افغانستان څخه بهر د څارنې په ماموريتونو کې د برخې اخيستلو لپاره ثبت کړي او د اروپا د امنيت او همکارۍ د سازمان (OSCE) د غړي هيوادونو په څير د ټاکنو د ادارو ټولنې جوړې کړي.

افغان رايه ورکوونکي ستړې تمې لري چې د دې ټاکنو په برکت به د دوئ ژوند ته ښې ګټې ورسيږي. په ټوله کې نړيواله ټولنه او په ځانګړې توګه د اروپا د امنيت او همکارۍ سازمان (OSCE) دا مسئوليت په غاړه لري چې د خلکو دغه تمې پوره کړي.

### لنډه کتنه

۱. د اروپا د امنيت او همکارۍ د سازمان (OSCE) دايمي شورا د ۶۲۲ پريکړې پربنسټ د ټاکنو د ملاتړ ټيم ته قيموميت ورکړ ترڅو په افغانستان کې د ټاکنو پروسه تحليل کړي او د ۲۰۰۵ کال د پارلماني، ولايتي او محلي ټاکنو څخه د مخه د ټاکنو د ښه والي په موخه وړانديزونه وکړي. د ټاکنو د ملاتړ ټيم ته لارښوونه شوې وه چې د رايې اچوونکو نومليکنې، د ټاکنو د کميسيون اجراآتو، رايې شميرنې او جدول جوړنې او همدا راز د شکايت او استيناف کړنلارو ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

۲. د ټاکنو د ملاتړ ټيم له ۴۲ کسانو جوړ و چې د ټاکنو په اداره او څارنه کې يې متراکمه تجربه لرله. د ټاکنو د ملاتړ ټيم د سپتامبر په ۱۵ نيټه جوړ شو او له ۲ – ۴ کسانو ۱۵ ټيمونه يې له ۲۹ سپتامبر څخه تر ۱۲ اکتوبر پورې په کابل او ۷ نورو سيمه ييزو مرکزونو کې وګمارل چې ولايتي مرکز فيض آباد هم پکښې شامل و.

۳. د اروپا د امنيت او همکارۍ سازمان /د جمهوري موسسو او بشري حقونو د ادارې (OSCE/ODIHR) د څارنې د ماموريت پرځای ''د ملاتړ ټيم'' د جوړولو پريکړه د امنيتي مسايلو له امله وکړه. خو دې پريکړې نوموړی ټيم ددې جوګه کړ چې د ټاکنو په پروسه کې لاډير ښکيل شي پرځای ددې چې د څارنې ماموريت به شوی وای. نوموړي ټيم وکړای شول چې د بيانيو، خصوصي وړانديزونو او په پريکړه کولو کې د ونډې له لارې د ټاکنو له پروسې سره نيغ په نيغه مرسته وکړي. د ''ټاکنو د ملاتړ'' مفکوره په نورو داسې حالاتو کې هم په اغيزمنه توګه پلې کيدلای شي چيرې چې هراړخيزه څارنه نشي ترسره کيدلای او يا يې امکان نه وي.

۴. د ټیم راپور په عمومي توګه د ټاکنو د ترسره کولو او په ځانګړې توګه د راتلونکو پارلماني، ولایتي او ولسوالیو د ټاکنو لپاره له یو شمیر عملي او سازماني وړاندیزونو څخه جوړ دی. خو پر *عملي* ګامونو ټینګار باید هغه سیاسي ژمنه پټه نکړي چې نوی ولسمشر او د هغه حکومت یې باید د ۲۰۰۵ کال د اپریل یا مي د میاشتې په ټاکنو کې په کار واچوي. دا ټاکنې حتې د ولسمشرۍ له ټاکنو هم ستره ننګونه ده. اساسي او ځینې وختونه سختې پریکړې باید ترسره شي ترڅو دا پروسه پیل شي. پدې پروسه کې د ټاکنو میتود، د ټاکنیزو حوزو معلومول، د ټاکنیزو کمیسیونونو جوړول، د رایې اچوونکو نوملیکنه او حقوقي او قانوني اصلاحات شامل دي (دا پریکړې په راپور کې په تفصیل سره راغلي دي او د **الف ضمیمې** په کاري پلان کې یې په لنډه توګه یادوونه شوې ده). **که چیرې عملي اقدام ونشي نو د پارلماني ټاکنو ځنډول به ناګزیر شي.**

۵. په موازې توګه به د پارلماني او محلي ټاکنو په وخت د مناسب امنیت د راوستلو لپاره لازیاتو هڅو ته اړتیا وي ترڅو له سیاسي پلوه سیالیو ته ښه چاپیریال چمتو شي.

۶. د ولسمشرۍ ټاکنو افغانستان په تاریخ کې د ملي یووالي په لور یو نوي باب پرانیست. د جنګ او بې یقینۍ له حالت څخه ستومانه افغانانو رایه ورکوونکو، هم ښځو او هم نارینه و، په ولولو سره دغه ټاکنیز فرصت راونیو ترڅو په خپل ژوند کې د سولې او ثبات د هیلې څرګندونه وکړي. رایه ورکوونکو ته په ټاکنو کې ګډون همدومره اهمیت درلود لکه څومره یې چې د یو کاندید په ټاکلو کې درلود. ډېرو په میړانې سره خپل ژوندون ته تهدید قبول کړ او نور بیا په سختو اقلیمي حالاتو کې د رایې ورکولو لپاره په اوږدو قطارونو کې ودریدل. د ځینو رسنیو له پلوه د ګډوډۍ او ناکرارۍ د راپورونو برعکس دا ټاکنې په ارامه او منظمه توګه ترسره شوې.

۷. د ولسمشرۍ د دغو ټاکنو د بریالیتوب اصلي دلیل له ټاکنیزې پروسې سره د افغانانو د پام وړ مالکیت او ژمنه؛ د رایه ورکوونکو پراخ ګډون چې د پام وړ ښځې هم پکښې وې؛ او کلك نړیوال ملاتړ و، په ځانګړې توګه د ټاکنو په ورځ د امنیت ټینګول.

۸. د ولسمشرۍ د ټاکنو په ترسره کولو کې نیمګړتیاوې په ځای ددي چې پلان شوی خیانت واوسي تردېره حده سازماني وې. دا یو نیك فال دی. سازماني ستونزې حل کیدلای شي؛ خو خیانت په ډېر زور سره له منځه ځي.

۹. د ولسمشرۍ د ټاکنو په بریالیتوب کې یو خطر نغښتی و. افغان رایه ورکوونکو سترې تمې درلودې – ځینې ښائي ووائي چې غیرحقیقي تمې وې – چې د بریالیو ټاکنو په ترسره کولو سره به د دوئ په ژوندون کې بدلون راشي. یوازې ټاکنې دا ډول بدلون نشي راوستلای. نړیواله ټولنه مسئولیت لري چې د پروسې د دوام لپاره مرستې او امنیت ته ادامه ورکړي ترڅو بیارغاونه شونې شي.

**وړاندیزونه پر:**

**د ټاکنو اداره:**

۱۰. له پارلماني ټاکنو د مخه باید یولړ سازماني ګامونه واخیستل شي ترڅو د ټاکنو کړنلاره ښه شي او نورې عاجلې ستونزې حل کړل شي.

الف) **د افغانستان د ټاکنو انتقالي کمیسیون.** د ولسمشر له پلوه باید د حکومت له جوړیدلو سملاسي وروسته د ټاکنو یو انتقالي کمیسیون جوړ شي. نوی انتقالي کمیسیون باید د اوسني کمیسیون د افغاني غړو ځای ونیسي. یوناما باید د افغاني مدني ټولنو له استازو سره په سلا د ټاکنو د انتقالي کمیسیون د غړیتوب لپاره معیارونه وټاکي. پدغو معیارونو کې باید عمر، تعلیم، او په اړونده مسلك کې تجربه شامله وي. د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر اوسني کارکوونکي باید د ټاکنو په انتقالي کمیسیون کې د بیا ټاکل کیدلو مستحق واوسي خو د غړو شمیره یې باید یې له اوه (۷) تنو څخه زیاته نشي. د ټاکنو په انتقالي کمیسیون کې باید د هغو افغانانو په ګمارلو فکر وشي چې د ټاکنو په اداره کې استثنائي وړتیا ولري.

ب) **د ټاکنو د تنظیم د نوي ګډ دفتر او د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء یوځاي کول.** د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء رئیس باید د دغه نوي دفتر له پلوه د یوناما په مشوره وټاکل شي او نه باید چې د ولسمشر له پلوه وټاکل شي لکه تراوسه چې کیږي. دا دواړه اداري باید په یو تعمیر کې واوسي. کړنلارې باید وضع شي

ترڅو دارالانشاء د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر غونډې جوړې کړي او د هغوئ پریکړې پلې کړي. د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر غونډې باید د علاقه منو همکټو پرمخ خلاصې واوسي او منطق یې باید دومره پراخه واوسي چې دی ته اجازه ورکړي. د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر پخوانۍ پریکړې باید د مناسب توب لپاره بیا له سره وکتل شي؛ هغه چې په خپل ځای پاتې کیږي باید په یو جلد کې خپرې شي. د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر ویاند باید عام خلک د دغه دفتر له پریکړو په بشپړ ډول باخبره وساتي.

ث) **د ټاکنو سیمه ییز او ولایتي کمیسیونونه** باید جوړ شي ترڅو له ولایتي او محلي ټاکنو سره مرسته وکړي. د هرې ولسوالۍ لپاره باید د ولسوالیو د ټاکنو افسران ونومول شي ترڅو د ثبت چارې پرمخ بوځي. د ټاکنو د تنظیم د نوي ګډ دفتر له خوا په دغو کمیسیونونو کې ګمارنه باید د هماغو معیارونو پربنسټ ترسره شي چې د ټاکنو د لنډمهالي کمیسیون د غړو لپاره کاریدلي وو. د ټاکنو ټیټ کمیسیونونه باید جوړ کړل شي ترڅو دوئ د کاندیدانو د نوملیکنې، شکایتونو او استیناف په څیر مسئلو باندې پریکړې وکړای شي.

i. **د مراتبو یوه سلسله.** اوس مهال د ټاکنو د اداري لپاره یو متوازي جوړښت موجود دی چې د یوناما او د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر له خوا پرمخ وړل کیږي چې په نتیجه کې یې مغشوش والی او د حسابدهي کمښت منځته راځي. د ټاکنو د تنظیم ګډ دفتر او د ټاکنو د انتقالي کمیسیون جوړښت به د ټاکنو د تنظیم حقوقي مسئولیت ولري. نوموړی دا ظرفیت بوازې هغه وخت ترلاسه کولای شي چې په عمل کې دا مسئولیت ورپه غاړه شي. د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر د جوړښت دننه داسې ښکاري چې ډیری وختونه افغانان او بهرنیان یوډول وظیفې سرته رسوي. د مسئولیت واضح کرښې باید راښکل شي.

ii. **د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر د شکایتونو او استیناف قواعد او کړنلارې** باید په بشپړ ډول له سره نوې شي ترڅو د شکایتونو د حل کولو اعتباري او فوري لارې چارې پیدا شي چې سمه پروسه ولري او شفاف واوسي. یوه لار یې دا هم کیدلای شي چې د شکایتونو او استیناف غوښتنې یو انتقالي کمیسیون جوړ شي چې مشري یې د یو بهرني په لاس کې وي چې حقوقي یا قضائي تجربه ولري او هم ورسره همدا راز افغانان واوسي چې حقوقي یا قضائي تجربه ولري. نوموړی کمیسیون باید د څیړنې قوي کارکوونکي ولري، چې دوئ کولای شي په سیمه ییزو یا ولایتي کمیسیونونو کې د شکایتونو څیړنه وکړي.

iii. **روزنه.** د ولسمشرۍ د ټاکنو پرمهال د روزنې کاسکیډ (له پورته څخه د ښکته په لور) طریقه استعمال شوه خو له امله یې مغشوش والي او ناسم پوهاوی رامنځته شو چې د رنګ په ستونزه کې ترسترګو شو. د ټاکنو ټول کارکوونکي باید د مجربو روزونکو له خوا وروزل شي.

iv. د ولسمشرۍ ټاکنې پر مهمو مسلو د ناوخته پریکړو له امله ترنیوکې لاندې راغلې لکه د کمپاین قاعدې او د رسنیو مقررات. په راتلونکې کې د ټاکنو لپاره باید **جدي ضرب الاجل** وټاکل شي او وڅارل شي.

**ستره محکمه**

۱۱. د اساسي قانون او د هغه له انتقالي احکامو سره سم د سترې محکمې اصلاحات د افغانستان د ولسواکۍ په پروسه کې یو اړین ګام دی. **هغه** رول چې اساسي قانون د قدرت د ویش په برخه کې محکمو ته د قوانینو او مقررو د تفسیر په اړه ورکړی، هغې ته په کتو سره باید نور اصلاحات ونه ځنډول شي. اوسنۍ سترې محکمې د قدرت له دغه ویش څخه تجاوز وکړ او د اساسي قانون یا کوم بل قانوني واک پرته یې د ولسمشرۍ په ټاکنو کې مداخله وکړه.

**د کمپاین مسایل**

۱۲. **مالي مسایل.** د کمپاین مالي مقررې د ولسمشرۍ د ټاکنو له کمپاین څخه بوازې څو ورځې د مخه د سپتامبر په ۵ نیټه خپرې کړل شوې. هیڅ ډول ریښتونې هڅې ونشوې چې کاندیدان له دې څخه خبر کړي او یا یې پر هغوئ پلې کړي. نوموړې مقررې، چې بوازې د ولسمشرۍ پرټاکنو پلې کیږي، ښائي د پارلماني ټاکنو لپاره ډیرې ترحده زیاتې غوښتونکې [سختې] واوسي چې په زرګونو کاندیدان په کې دخیل دي او داسې هیڅ اداره نشته چې ددې د څارنې وړتیا ولري.

**۱۳. د رسنيو مسايل.** د تيرو ټاکنو د کمپاين پر وخت د برقي رسنيو راپورونو او اداريو د ځينو کانديدانو ترمنځ واضح ناانډولي وښوده. د ټاکنو د تنظيم د ګډ دفتر له خوا جوړ شوي د رسنيو کميسيون هيڅ ډول قانوني واك نه درلود چي نيغ په نيغه مجازات وضع کړي. د ټاکنو د تنظيم نوی ګډ دفتر بايد د عامه رسنيو د کمپاين طرزالعمل بيا له سره وګوري ترڅو د رسنيو کميسيون ته زمينه چمتو کړي چي نيغ په نيغه جريمې ولګوي. هيڅ ډول سياسي اعلان ته بايد اجازه ورنکړل شي چي په پيسو خپريږي او داشرط بايد کينودل شي چي په راتلونکو ټاکنو کې بايد کانديدان په مساوي توګه رسنيو ته لاس رسی ولري. د دغو کړنو د څارني او کنترول لپاره بايد د رسنيو کميسيون په ټولو ولايتونو کې فرعي کميسيونونه جوړ کړي. د رسنيو د کميسيون يو وکالتي څانګه بايد جوړه شي ترڅو سياسي ګوندونو او کانديدانو ته روزنه ورکړي چي څه ډول رسنيو ته لاس رسی پيدا کړي.

## پارلماني ټاکني[1]

د اروپا د امنيت او همکارۍ د سازمان (OSCE) ټيم شك لري چي پارلماني، ولايتي او د ولسواليو ټاکني به له مهالويش سره سمې د اپريل يا مې په مياشت کې ترسره شي کنه. ځنډول به يې له کلکې سياسي نيوکي سره مخ شي. نوموړی ټيم ټينګار کوي چي د مې د مياشتي ضرب الاجل ته د رسيدو لپاره بايد ټولې هڅې په کار واچول شي. چي کله نوی حکومت منځته راشي نو دې هدف ته د رسيدو لپاره بايد لاندې ګامونه په فوري توګه واخيستل شي:

**عملياتي پلان.** يوناما بايد يو تفصيلي عملياتي پلان جوړ کړي چي په هغې کې بايد ثابت مهالوېش او د بوديجې تخمين لګول شوی وي چي پر بنسټ يې د لګښتونو اندازه ولګول شي ترڅو له بسپنه کوونکو څخه مرسته وغوښتل شي. نوموړی پلان په يو څو فوري مسئلو له پريکړې *وروسته* منځته راتلای شي، پدې کې لاندې چارې شامل دي:

i. **همزماني ټاکني.** پريکړه بايد وشي چي آيا اوس مهال دا شوني ده چي پارلماني، ولايتي او د ولسواليو ټاکني په يو وخت ترسره شي.

ii. **د رايه ورکوونکو نومليکنه:** د ولسمشرۍ د ټاکنو د نهائي پايلو له اعلان سره سم بايد پريکړه وشي چي څه ډول بايد د ټاکنيزو حوزو لپاره د رايه اچوونکو ليستونه چمتو کړل شي. د رايه ورکوونکو ليستونه له هغو معلوماتو څخه چمتو کيدلای شي چي د رايه ورکوونکو د نومليکنې په وخت لاسته راغلي او هم له هغو معلوماتو څخه چي په ټول هيواد کې د رايي اچووني له ځايونو څخه ترلاسه شوي. د هرې ولسوالۍ لپاره بايد د سوابقو ثبتوونکي وګمارل شي او د نومليکنې يوه نوې لړۍ بايد پيل شي. دله ييز امتيازونه، لکه د وړې کچې پراختيائي پروژې بايد په هغو ځايونو کې پلي شي چيرې چي د رايه ورکوونکو ليستونه تصديق شي. له دې سره به رايه ورکوونکي وهڅول شي چي خپل نومونه په ولسواليو کې د رايه ورکوونکو په هغو ليستونو کې وګوري چيرې به چي دوئ رايي ورکوي. د ولسواليو د رايه ورکوونکو په ليست کې بدلون بايد مرکزي ډيټابيس کې هم راوستل شي ترڅو د دوه ګوني نومليکنې مخه ونيول شي.

iii. **د ټاکنيزو حوزو معلومول.** د پارلماني، ولايتي او د ولسواليو له ټاکنو ۱۲۰ ورځې د مخه بايد د ولسمشر يو فرمان راشي چي د ولسواليو ټاکنيز سرحدونه معلوم شي. (۲) د داسي يو فرمان د چمتو کولو لپاره بايد د کورنيو چارو د وزارت له خوا واضح لارښووني راشي چي له مخې يې د ولسواليو سرحدونه راښکل شي. نړيوال هم کولای شي د نورو هيوادونو له تجربې څخه په استفادې پدغه پروسه کې مرسته وکړي.

---

۱. دا مهمه ده چي په ياد وساتل شي چي يوازي ولسي جرګه نيغ په نيغه ټاکل کيږي. د مشرانو جرګه په غير مستقيم ډول انتخابيږي يا انتصابيږي. له همدې کبله پارلمان په بشپړ ډول ترهغه نشي جوړيدلای ترڅو ولايتي او محلي اداری ټاکل شوي نه وي.

۲. د ټاکنو د قانون ۱۱ ماده

iv. **له هیواد څخه بهر رایه اچوونه.** د بودیجي او نورو مقصدونو لپاره باید له مخکي پریکړه وشي چي آیا هغه افغانان باید په پارلماني ټاکنو کي رایه ورکړي چي په ایران، پاکستان یا نورو ځایونو کي میشت دي. د اروپا د امنیت او همکاری د سازمان (OSCE) ټیم په کلکه د دي مخالفت کوي چي یو دلیل یي هغه ستونزي دي چي له هیواد څخه د بهر رایه ورکوونکي له پارلماني ټاکنیزو حوزو سره تړل یي لري.

v. **پارلمان ته د ټاکنو متیود.** دا د ټاکنو د نړیوالو ماهرینو ګډه پریکړه ده چي د واحد ناقابل انتقال رایي سیستم چي پارلماني ټاکنو ته غوره شوی غیر عملي او نامناسب دی. دا پریکړه باید د نوي حکومت، یوناما او د ټاکنو د تنظیم د نوي ګډ دفتر له پلوه بیا وڅیړل شي. د اروپا د امنیت او همکاری د سازمان (OSCE) ټیم وړاندیز کوي چي یو دوه رګه سیستم استعمال کړل شي چي اوس مهال په نورو انتقالي هیوادونو کي استعمالیږي. یو خاص فیصد کرسی باید د متناسبي نماینده ګۍ د سیستم له لاري وټاکل شي چي له ټول هیواد څخه د یوې حوزې په څیر راټولي شوي وي او نوري پاتي یي د څو غړو له ټاکنیزو حوزو څخه د "لومړی له مخکي تیر" پروسي له لاري وټاکل شي. په قانوني توګه د ښځو نماینده ګي له دې لارې هم یقیني کیدلای شي چي ښځي د ګوند په سر کي په ښه ځای کي مقام ولري. د نوموړي ټیم په آند، دغه بدلون به د ټاکنو له قانون سره هماهنګ وي او د ولسمشر پر فرمان ترلاسه کیدلای شي.

۱۵. د دغو فوري عملیاتي مسایلو سربیره، د **نورو ګامونو** پلان هم باید جوړ شي او واخیستل شي:

i. **د نفوسو شمیرې** د ټاکنیزو حوزو لپاره باید د احصائیي له مرکزي اداري څخه ورکړل شي. دا کار د هغو نمونو د حساب پربنسټ هم کیدلای شي چي لا پخوا ترلاسه شوي، خو دا شمیرې باید د نوي حکومت له جوړیدلو فوري وروسته ورکړل شي. په دې اساس په هرې ټاکنیزې حوزې کي د غړو د شمیرې په سر پریکړه کیدلای شي.

ii. **د کاندیدانو بررسي.** لکه څنګه به چي په دغو ټاکنو کي په زرګونو کاندیدان وي، نو د بررسي پروسه باید له مرکز څخه ولایتي کچي ته یوړل شي خو د استیناف پروسه یي لوړې کچي ته ولاړه شي. په یوه اووني کي د بررسی د بشپړولو قانوني شرط باید وغځول شي، خو یو واضح ضرب الاجل باید وټاکل شي. که چیرې د څو غړو ټاکنیزې حوزې یا ګوند د لیست سیستم غوره کیږي نو د ټاکنو د تنظیم ګډ دفتر باید پریکړه وکړي چي کوم ګوندونه متسحق دي چي کاندیدان ولري خو بیا به هم پدې پورې تړلې وي چي د متسحق کیدلو معیار پوره کوي او کنه. د یو عملي بدیل په نه شتون کي باید بیا هم هماغې پروسې ته ادامه ورکړل شي چي کاندیدان باید د رایه اچوونکو کارتونه وړاندې کړي ترڅو وښائي چي په خلکو کي ملاتړ لري.

iii. **د رایه اچوونکو او عامه روزنه.** د ولسمشرۍ د ټاکنو په پرتله به دا ډیر ستونزمن کار وي چي رایه ورکوونکو ته د پارلمان او محلي ټاکنو پیچلي پروسه تشریح کړل شي. روزنیز کمپاین تر هغه نشي پیل کیدلای ترڅو د رایه ورکوونکو د نوملیکني او یا ټاکنیز سیستم په څیر اساسي پریکړې نه وي شوي. لړترلړه د څلورو میاشتو سخت کار ته اړتیا ده ترڅو ټاکونکي پارلماني او محلي ټاکنو ته چمتو شي. د رایه ورکوونکو د روزني لپاره باید د رادیو استعمال زیات کړل شي. سربیره پر دې، په عامه توګه عوام د پارلمان یا محلي شوراګانو په رول باندې ډیر لږ پوهیږي. د عامه پوهاوي روزنه باید د ښوونځیو په نصاب کي شامل کړل شي. د رایه ورکوونکو او عامه پوهاوي پروګرامونه باید په ټولنیزې څیړني ولاړ وي.

iv. **د ظرفیت لوړول.** د ولسمشرۍ له ټاکنو وروسته به دا ډیره ضروري وي چي ظرفیت لوړ شي ځکه چي ډیری نړیوال او افغاني کارکوونکي به ولاړ شي. نوموړی ټیم د ظرفیت په لوړولو کي د اروپا د امنیت او همکاری سازمان (OSCE) رول هم ګوري چي نیغ په نیغه له هغو افغانانو سره کار وکړي او ویې روزي چي د ولسمشرۍ په ټاکنو کي یي ښې وړتیاوې ښودلي دي.

v. **ښځي په سیاست کي.** ډیر څه باید وشي ترڅو په سیاسي پروسه کي د ښځو د ونډه زیاته شي او د رایه اچوولو په اړه هغوئ ته روزنه ورکړل شي. د ولسمشرۍ په ټاکنو کي د هغوئ لیوالتیا ته په پام سره داسي ویلای شو چي دوئ به منونکي نندارچیان وي. دوئ ته د روغتیا د عامه نظام، دائیانو، د واکسیناسیون پروګرامونو او مذهبي رهبرانو له لارې رسیدل شوني دي. پداسي ځایونو کي باید لازیاتې روزني ترسره شي چیرې چي دوئ په عام ډول سره راغونډیږي، لکه بازارونه.

vi. **د سیاسي ګوندونو پراختیا.** که چیرې داسې یو سیستم غوره کیږي او کنه چې د ګوندونو لیست په کې ښکیل وي، خو ټولې هڅې باید وشي چې داسې ګوندونه منځته راشي چې د هر نژاد خلك په کې واوسي او جنګ سالاران او نژادي توپیرونه ګوښه کړي. داسې ښکاري چې د عامو خلکو یوه برخه لږترلږه له دې سره خواخوږي لري چې هرنژادي کړنلاره خپله شي، خو پر دې بنسټ ګوندونه جوړول به ډیرو منابعو او وخت ته اړتیا ولري. که چیرې د ګوندونو هرنژادي لیست یا د څو غړو د ټاکنیزې حوزې سیستم معرفي کیږي نو بیا داسې تمه کیدلای شي چې ګوندونه به د ګوندونو د کرسیو د لیست پر سر د سیالیو لپاره سره یوځای شي.

vii. **د پارلماني پروسې ښوونه.** په تیرو وختونو کې هغه انفرادي هیوادونه چې د افغانستان په بیا رغاونه کې ښکیل و اوس مخته راغلي چې د ټولنې په ځینو سکتورونو کې مخکښ رول ولوبوي. یو هیواد چې د پارلماني پوهاوي یو فعال پروګرام لري، هغه به د دا ډول رول لپاره کاندید وي.

viii. **د محلي څارونکو او ګوندونو یا کاندیدانو د استازو روزنه.** پارلماني ټاکنو ته باید د ځائي څارونکو او کاندیدانو یا ګوندونو د استازو ښه روزل شوي او غښتلي ډلې تیارې شي.

ix. **د رایې شمیرنې سیستم.** له مرکز څخه بهر د رایې د شمیرلو یو سیستم باید طرحه او پلان شي او بودیجه ورته جلا کړل شي. غوره به دا وي چې رایې شمیرنه د رایې اچونې په ځایونو یا د رایې اچونې په مرکزونو کې ترسره شي. که چیرې د رایې د راز ساتلو د اندیښنو له امله دا شوني نه وي نو په ولسوالیو کې باید د رایې شمیرنې مرکزونه جوړ شي او که چیرې ډیره زیاته اړتیا ورته لیدل کیږي نو د ولایت په کچه باید جوړ شي.

**امنیت**

۱۶. دا مهمه ده چې د ولسمشرۍ د ټاکنو په وخت د تمې برعکس د ټیټې کچې تاؤ تریخوالی له امله باید افغان او نړیوال چارواکي په ځان قناعت ونکړي. په حقیقت کې د افغان پولیسو او کورنیو چارو وزارت، ملي اردو، آیساف او د نړیوال ایتلاف ځواکونو د استثنائي پیاوړو او اغیزمنو تدبیرونو او د لوړې کچې عملیاتو له برکته د ډیرو حملو په اخیري دقیقه کې مخنیوی وشو. پارلماني ټاکنې به لازیاتې خطرناکې وي ځکه چې په دې کې به د جنګ سالارانو او محلي قومندانانو ډیر څه په داؤ لګیدلي وي.

۱۷. د بې وسلې کولو، ترخیص کولو او په ټولنه کې د بیا شاملولو (DDR) پروسه باید ادامه ومومي او نوره هم ګړندۍ شي. یوه طریقه یې دا کیدلای شي چې د ټاکنو د قانون د حکمونو پر تطبیق ټینګار وشي چې له مخې یې باید د کاندیدانو او ګوندونو له غیر رسمي نظامي قوتونو سره د اړیکو مخنیوی وشي. د تطبیق د تشو وعدو ورکولو عمل باید ودریږي.

۱۸. د ملي اردو روزنه باید دوام ومومي او له پارلماني ټاکنو څخه مخکې باید ګړندۍ شي. افغان ملي پولیس اوس هم نابسیا روزنه لري او په ټیټه کچه تجهیز شوي. نوي جزء تامونه باید په هغو سیمو کې جوړ شي چیرې چې ځائي ملیشو ته اړتیا پیښه شوې چې له پولیسو سره مرسته وکړي.

**عاجل حقوقي او قانوني مسایل**

۱۹. د نوموړي ټیم په قیمومیت کې دا شرط هم شامل دی چې د ټاکنو د حقوقي کاري چوکاټ د ښه کولو په موخه وړاندیزونه وکړي. داسې یو شمیر لارې چارې شته چې له مخې یې د افغانستان د ټاکنو قانون تعدیل کیدلای شي ترڅو له نړیوالو معیارونو او غوره عملونو سره نږدې مطابقت پیدا کړي. خو ټیم پدې باور دی چې د ټاکنو په قانون کې ستر بدلونونه باید د نوي پارلمان ټاکنو ته انتظار وباسي، او په عین حال کې د ولسمشر فرمانونه او د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر مقررې، د پارلماني، ولایتي او ولسوالیو د ټاکنو د چمتووالي لپاره کاریدلای شي.

۲۰. لاندې مسئلې باید د ولسمشر په فرمان کې مطرح شي:

i. د پارلماني ټاکنو نیټه، که له ولایتي او د ولسوالیو له ټاکنو سره په یو وخت وي یا نه.

ii. د پارلمان د غړو د ټاکلو میتود او همدا میتود چې له مخې به یې د ښځو استازیتوب یقیني شي.

iii. د ولسواليو د ټاکنيزو سرحدونو جوړول.

iv. له منل شوي معيار، د ټاکنو د تنظيم د نوي ګډ دفتر او د ټاکنو د تنظيم د ګډ دفتر د دارالانشاء ترمنځ د اړيکو له تعريف سره سم افغانستان د ټاکنو د لنډ مهالي کميسيون د نويو غړو ټاکل؛ د ټاکنو د تنظيم نوی ګډ دفتر بايد لاندې واکونه ولري ترڅو:

أ. د شکايتونو او استيناف د ټيټې کچې کميسيون جوړ شي؛

ب. د جدي بې قاعده ګيو په صورت کې د بيا شميرنې يا بيا له سره د ټاکنو د ترسره کولو په اړه پريکړه وکړي؛

ت. د ټاکنيز کمپاين په وخت د جدي تيريو په صورت کې د کانديد نوم له ليست څخه حذف کړي؛

ث. د ټاکنو سيمه ييز او ولايتي کمشنران وټاکي.

۲۱. د ټاکنو د تنظيم نوی ګډ دفتر بايد پريکړې وکړي چې:

i. د رايو د بيا شميرنې يا د ټاکنو د بيا ترسره کولو لپاره زمينه واضح کوي.

ii. په هره کچه د شکايتونو او استيناف غوښتنې اعتباري او شفافې کړنلارې جوړول. شکايتونه بايد لومړی د ټيټې کچې کمشنرانو ته ورشي چې دوئ بايد هغه بيهوده شکايتونه رد کړي چې شواهد نلري. جدي ضرب الاجلونو ته بايد رسيدګي وشي. په يو معلوم وخت کې د کميسيونونو لخوا اقدام نه کول بايد يوه منفي پريکړه وګڼل شي او پرخلاف يې بايد استيناف غوښتنه وشي. د ټيټې کچې کميسيونونو پريکړې د لوړې کچې کميسيونونو ته د استيناف په صورت کې وړاندې کيدلای شي. د يو موقتي اقدام په توګه بايد د نااجراء شويو قانون جوړولو په اړه محکمو ته واك ورکړي ترڅو د ټاکنو د تنظيم د ګډ دفتر پريکړې وڅيړي، ددې لپاره له پورته ياد شوي د شکايتونو او استيناف موقتي کميسيون استعماليدلای شي چې د ټاکنو د تنظيم د ګډ دفتر د پريکړو په اړه وي.

iii. د سيمه ييزو او ولايتي ټاکنو د کميسيونونو ټاکل او د هغوئ د واکونو واضح کول، د بيلګې په توګه چې د کانديدانو ثبت د هغوئ په اړونده کچو منظور شي. هغه شرط چې د کانديدانو بررسي بايد په يوه اوونۍ کې بشپړه شي، بايد وغځول شي خو يو واضح ضرب الاجل بايد وټاکل شي.[۳]

iv. د رايه ورکوونکو د ثبت بيا پيلول، د ولسواليو په کچه د رايه ورکوونکو ثبتول، او د رايه ورکوونکو د ليستونو د تيارولو لپاره د کړنلارو وضع کول. دا پريکړه بايد واضح کړي چې هغه رايه ورکوونکي چې د ټاکنو تر نيټې تر ۱۸ کلن کيږي بايد ثبت کړل شي.

v. دا واضح کول چې د ټاکنو کميسيونونه په هره کچه په ساده اکثريت پريکړې کولای شي که چيرې يوې پريکړې ته له سره ونه رسيږي.

vi. په واضح توګه د کانديد د مستحق کيدلو معيارونو تعريف کړي. پريکړه بايد هغه شرايط واضح کړي چې له امله يې د يو کانديد نوم پدې دليل چې د ټاکنيز کمپاين پر وخت يې سخت تيري کړي وي، له ليست څخه ويستل کيږي. دا ډول پريکړه بايد د پريکړې کولو او استيناف لپاره واضح ضرب الاجل ولري. همداراز دا بايد له ټاکنو د مخه د کانديد د وتلو پوښتنه هم مطرح کړي او واضح کړي چې يو کانديد ته اجول شوې رايې بل کانديد ته نشي ورکول کيدلای.

vii. د حکومتي مرستو د ويشلو لپاره کړنلارې او معيارونه وضع کول چې د سياسي ګوندونو د قانون د ۱۵ مادې له حکمونو سره سم بايد د سياسي ګوندونو او آزادو کانديدانو د ټاکنيزو کمپاينونو د ملاتړ په موخه په مصرف ورسيږي.

viii. د عامه رسنيو د کمپاين د کړنلارو بيا له سره کتل، د رسنيو د کمشنرانو د ټاکلو لپاره لازياته شفافه پروسه منځته راوړل او کمشنرانو ته دا واك او اختيار ورکول چې هغه رسنۍ نيغه په نيغ مجازات کړي چې تيري يې ترسره کړي.

**د پارلماني ټاکنو ځنډول**

۲۲. که چیرې پورتني شرطونه په وخت پوره نه شي، نور پارلماني ټاکني به ښائي د ۲۰۰۵ کال تر مني وځنډول شي. په هغه صورت کې به دا لازمي وي چي یوه انتقالي مشورتي اداره جوړه شي او ولسمشر ورته ځواب ویوونکې وي. د دغي اداري د ماهیت په اړه باید سلا مشورې سر له اوسه پیل شي ځکه چي که [د ټاکنو] ځنډول ضروري وي نو یوه عمومي موافقه باید په دې هم واوسي چي څه ډول باید دغه خلا ډکه شي.

**د اوږد مهال حقوقي او قانوني مسایلو تحلیل**

۲۳. نوموړي ټیم د حقوقي او قانوني اصلاحاتو د یوې مطالعي سپارښتنه کړې چي ښائي نوی انتخاب شوی پارلمان پرې غور وکړي. دغه څیړنه د ټاکنو د تنظیم ګډ دفتر ته ورکړل شوې ده.

---

۳ د ټاکنو د قانون ۴۵ ماده

## الف ضمیمه

## <u>کاري پلان</u>

*<u>په مختلفو ساحو کې د لومړۍ درجې کړنې په یو وخت هم پیل کیدلای او پرمخ تللای شي. د دویمې او دریمې درجې کړنې تر هغه نشي پیل کیدلای ترڅو چې د لومړۍ درجې کار بشپړ شوی نه وي.</u>*

### لومړۍ درجه

| د وخت چوکاټ | مسئله | څوک يې پرمخ وړي |
|---|---|---|
| E - ۱۸۰ | **اړینې اساسي پریکړې**<br>- پریکړه وکړي چې آیا ټولې ۳ کچې په یوځل ټاکنو کې ترسره کړي د ټاکنو د تنظیم د<br>- د پارلماني استازیتوب سیستم وټاکي<br>(یاني د واحد ناقابل انتقال رایې سیستم د ګوندونو او څو غړو ولسوالیو د ډلې په وړاندې) | ولسمشر،<br><br>د ټاکنو ګډ دفتر |
| E - ۱۸۰ | **ساختاري یا سازماني**<br>- د ټاکنو د تنظیم ګډ دفتر /د ټاکنو انتقالي ادار وټاکي<br>- د واك، مسئولیت، حساب ورکولو او حساب ورکولو څرګند خطونه د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر، د هغه دارالانشاء او ولایتي او د ټاکنو د ولسوالیو د کمیسیونونو ترمنځ راکاږي.<br>- د څو کچو د شکایتونو او ننګونو کړنلارې جوړې کړي | ولسمشر<br><br>یوناما، دټاکنو دفتر<br>یوناما<br>د ټاکنو دفتر |
| E - ۱۸۰ | **د رایه ورکوونکو روزنه**<br>- د رایه ورکوونکو د روزنې پروګرامونه جوړ کړي | د ټاکنو دفتر |
| E - ۱۶۰ | **حقوقي**<br>- د ټاکنو مقررې خپرې کړي<br>- د کاندیدانو د متسحق کیدلو او غیرمستحق کیدلو په اړه د حکمونو خپرول | د ټاکنو دفتر<br>د ټاکنو دفتر |
| E - ۱۵۰ | **عملیاتي پلان**<br>- عملیاتي پلان منځته راوړي چې مهالویش او بودیجه هم ولري | یوناما<br>د ملګرو ملتونو پراختیائي اداره |
| E - ۱۵۰ | **د رایه ورکوونکو نوملیکنه**<br>- ساحه او جزئیات یې معلوم کړل شي | د ټاکنو دفتر |
| E - ۱۵۰ | **مالي**<br>- د ابتدائي بودیجې جوړول<br>- د مرستې لپاره پلان | د ټاکنو دفتر<br>دارالانشاء<br>یوناما، د ملګرو ملتونو پراختیائي اداره |
| E - ۱۳۰ | **د حوزو معلومول**<br>- د نفوسو د ویشلو تعینول<br>- فرمان چې د حوزې سرحدونه معلوموي | د احصائیو مرکزي دفتر<br>د ولسمشر فرمان |

### دویمه درجه

| | | |
|---|---|---|
| | **ساختاري / سازماني** | |
| E - ۱۲۰ | - د ټاکنو محلي او ولایتي کمیسیونونه وټاکي | د ټاکنو ګډ دفتر |
| E - ۱۲۰ | - د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر دارالانشاء ته کارکوونکي وګماري | د ټاکنو ګډ دفتر |
| E - ۱۲۰ | - د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر پخوانۍ پریکړې وڅیړي، کوډ ورکړي او هغه خپرې کړي چې باید وساتل شي؛ اضافه موضوعګانې د حل لپاره په ګوته کړي | د ټاکنو ګډ دفتر |
| E - ۱۲۰ | - د اساسي پریکړو لپاره ضرب الاجل مقرر کړي | د ټاکنو ګډ دفتر |
| E - ۱۰۰ | - له مرکز څخه بهر د رایې شمېرلو سیستم جوړ کړي | د ټاکنو ګډ دفتر |

| | | |
|---|---|---|
| | **د ټاکنيزو حوزو معلومول** | دارالانشاء |
| E - ۱۳۰ | له نفوسو سره د کرسيو ويشل | د ټاکنو ګډ دفتر |
| | **لوژيستيک** | د ټاکنو ګډ دفتر |
| E - ۱۲۰ | - د تجهيزاتو ليست جوړ کړي او خريداري پيل کړي | دارالانشاء |
| E - ۱۲۰ | **امنيت**<br>- د DDR پروسي ته ادامه ورکړي؛ ملي اردو او ملي پوليس جوړ کړي<br>- په ټول هيواد کي او هم محلي امنيت پراخ کړي | ايساف،ايتلافي ځواکونه، دفاع وزارت، ملي اردو، دفاع وزارت ايتلافي ځواکونه |
| E - ۱۲۰ | **د رايه ورکوونکو نومليکنه**<br>- اوسني نومليکنه تصديق کړي او نوي نومليکنه له سره پيل کړي ترڅو راستانه شوي مهاجرين اونور ورشامل کړي – خاصو ټاکنيزو حوزو ته وګمارل شي حتي په امکاني توګه ځينو د رايو مرکزونه ته هم.<br>- د ولسواليو په کچه د رايه ورکوونکو ثبت منځته راوړي | د ټاکنو ګډ دفتر |
| E - ۱۲۰ | **د رايه ورکوونکو روزنه**<br>- تجربي پيداکړي ترڅو د پارلمان او محلي ټاکنو نظريي منځته راشي<br>- پر ښځو ټينګار | د ټاکنو ګډ دفتر<br>د ټاکنو ګډ دفتر، موسسي |
| | **مالي** | |
| E - ۱۲۰ | - بوديجه نهائي کړي | |
| E - ۱۲۰ | - د مرسته کوونکو ژمني نهائي کړي | د ملګرو ملتونو پراختيايي اداره، يوناما، د ټاکنو ګډ دفتر، د ملګرو ملتونو پراختيائي اداره |
| E–۱۰۰ | **حقوقي**<br>- سياسي ګوندونو ته د دولت له پلوه د مالي مرستي لپاره کړنلارې او معيارونه وضع کول | د ټاکنوګډ دفتر |

**دريمه درجه**

| | | |
|---|---|---|
| | **ساختاري /سازماني** | |
| E – ۱۰۰ | - ولايتي او د ولسواليو د ټاکنو کميسيونونه وټاکي او وروزي | د ټاکنو د ګډ دفتر دارلانشاء |
| E – ۹۰ | - د رايي اچوولو د مرکزونو او د رايي اچوولو د ځايونو کارکوونکي وټاکي | |
| E - ۶۰ | - د رايي شمېرني ولايتي مرکزونه جوړ کړي، د رايي شمېرني کارکوونکي وګماري او روزنه ورکړي | د ټاکنو د ګډ دفتر دارالانشاء |
| E – ۹۰ | **د کانديدانو عريضه ورکول** | |
| | - له ګوندونو پرته د کانديدانو ليست بررسي کړي | د ټاکنو ګډ دفتر |
| | - د ګوندونو ليست ثبت کړي | د ټاکنو ګډ دفتر |
| E – ۹۰ | **رسنی** | |
| | - د کمپاين د رسنيو طرزالعمل بيا له سره وګوري | د ټاکنو ګډ دفتر |
| | - د رسنيو د نوي کميسيون غړي وټاکي | د ټاکنو ګډ دفتر |
| E – ۶۰ | **د رايه ورکوونکو روزنه** | |
| | - د ځائي څارونکو روزنه؛ او د ګوندونو او د کانديدانو د استازو روزنه | د ټاکنو د ګډ دفتر دارالانشاء |
| E – ۱۴ | **لوژيستيک** | |
| | - د سامان اسباب ځای په ځای کول، تصديقول او رسول | د ټاکنو د ګډ دفتر دارالانشاء |
| | **حقوقي** | |
| | - د کانديدانو مستحق کيدل څاري – که اړتيا وي بنديز لګوي | د ټاکنو ګډ دفتر |